مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

محمدیار یار ۲۰۲۵/۱۲/۱۱

# ډاکتر لېوال

## د تخیل او تفکر امتزاج

### دویمه‌برخه

**فکر و فلسفه**

زما په فکر، که په هنري اثر کې فکر پامور وي نو اول د هغه ښکاره کول اړین دي، ور پسې دا چې دا فکر په څه ډول هنرمندانه انداز وړاندې شوی دئ.

استاد لېوال که یو خوا د یوه شاعر په توګه، د لوړ و رنګین تخیل په لرلو نامتو دئ او نوموړی هم، د یوه جدي هنرمن په صفت، د تخیلي میکانیزمو په سلسله کې، تر ټولو مهمو هغو، یاني سیمبولو و اسطورو و ابدي اهمیت ته متوجه دئ، نو ځکه یې د همدغو تصویرسازو صنایعو په آګاهانه پالنه سره، هغه د خپل سبک لایتجزا مشخصي ګرځولي، بل پلو بیا، نوموړی د یوه معقول انسان په حیث، د فکر و فلسفي د قلمرو جل وهلی مسافر هم دئ، هغه اصلن کولای نه شي چې د ژورو فکري بوختیاوو له اړتیا بې نیاز شي او تنده و تلوسه یې دا وي چې فکري فلسفي جنجالونه مطرح او زړو هغو ته د نوو حللارو په لټون سره ځان تر سترو هم سترې کاندي، مثلن، هغه له اوږدو زمانو دغه فکري ادبي جنجال ته چې ادب د ادب لپاره که د ژوند؟ د خپل فکري صلاحیت په مټ، داسي یوه نوي تیوري مطرح کړه، بلکي سرې ویلای شي چې تقریبن قاطع یې وړاندې کړه چې" :نه ادب د ادب، نه د ژوند لپاره، بلکي ادب او ژوند دواړه د انسان لپاره "!او موږ د هغه دا تیوري د هغه پر ټول هنر خپره لیدای شو چې هم د هغوی تنده ماتولای شي چې شعر د شعر لپاره غواړي، ګواکي د سوچه هنر او فورمالیزم تږي دي، چې وروسته به یې د بدیعي صنایعو په چوکاټ کې رنګارنګ تصویرونه د ثبوت په توګه وړاندې کړم، هم د ژوند د ښېرازۍ لپاره پیغامونه، آن د راتلونکو زمانو لپاره هم تلپاته ارزښتونه لري او بیا دغه دواړه رنګین خیالونه و مهم فکرونه د انسان لپاره وړاندې کوي ځکه زموږ دا هنرمن پر انسان مین دئ او له انسان پرته ور ته ښکلا و مانا مفهوم بایلي ځکه هر مادي و مانیز ارزښت، یوازې د انسان پر شاوخوا ارزښت بلل کېدای شي، که انسان نه وي نو ارزښت به څه ارزښت او د چا لپاره ارزښت و لري؟ په همدغه ځای کې، له یوه بل فلسفي جنجال سره هم مخ کېږو چې له وختو وختو څخه یې، نه یوازې انسانان په فکري اختلافاتو کې ښکېل دي بلکي د دغو اختلافاتو په ترڅ کې یې وینې هم بهولي دي او دا د مادي و مانا د بېلتون او بیا یې د تقدم و تأخر ډیالیکتیک دئ چې دلته یې د استاد لېوال په هنر کې لیدلای شو، یا به زه داسي فکر کوم چې دا دوې پدیدې د یوې سکې دوه مخه دي، دلته ماده و مانا یوه له بلې، نه بېلېدونکي دي، دا بېلتون نه ممکن دئ، نه معقول، دلته د مادي ماهیت د هغې په شکل کې متبلور دئ او شکل یې ماهیت په خپل ځان کې ساتي، ښایي احمقانه و ایسي چې څوک دې د مادي د دغو دوو اړخو د بېلولو هڅه و کړي او بیا دې د یوه یا بل اړخ د اول پیدا کېدو ذهني یا تخیلي ادعاوي و کړي او دا خو لا څه چې د خپلې ادعا د تحمیل لپاره دې خونړي انقلابونه پېښ کړي، د وینو سېلابونه دې و بهوي او د هراړخیزو ورانیو فاجعې دې خلق کړي، البته دا هم ده چې دا بې له شکه یو فلسفي جدل دئ چې باید وشي خو فاجعه هله سر را پورته کوي چې دوګماتیست ایدیولوګونه د خپلې مشخصې ایدیولوژۍ په زمینه کې، خپل فکري_ فلسفي قضاوتونه د ساینټیفیک نتایجو په توګه، نه یوازې وړاندې کوي، بلکي تحمیلوي یې، که څوک یې مخالفت کوي نو سرونه یې ریبي.



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په ځیر و لولئ

استاد لېوال په سلسال و شاهمامه کې، نژدې ټول په مادي دنيا کې بوخت دئ خو هغه چې د افغان انسان او نهايت کې انسان د روښانتيا، ويښتيا او په پايله کې هوسايني و ژغورني په ناتمامه تلوسه، په آګاهانه وجداني مسؤليت سره، په ماده کې نغښتې کومه مانا، يا ماناخېزه ماده وړاندې کوي، د ننداري وړ ايسي، زموږ مفکر هنرمن ماده و مانا سره اوبي، يوازې ماده و مانا نه، بلکې پراخې مادي سيمې د ماناوو په تارو سره کندي، ولسونه سره غاړه غړې کوي، تاريخونه يو په بل کې سره را نغاړي، شلول شوې ملي انساني رشتې بيا کوشېروي او د خوند و پند، پيغام و ښکلا امتزاج ترې تخليقوي او هغه هم د شعر په سيملوليکه ژبه او د خيال په څه اساطيري پرتم سره:

شاهمامه او سلسال وتي په سفر دي
له پامير څخه تر لوړه هندوکوښه
اسمايي څخه په لوري د سپينغر دي
دوی به راوړي له زړې ګندهارا نه
آبي نښې د هډې له لوی مزډکه

هم روښانه څو ډېوې آراکوزيا نه
د باختر له ناويهاره سپيني بکرې
لاژورد د بدخشان له لوړو غرونو
څو غمې د زمرد له هسک پنجهيره
له نيلاب څخه به نښې د بګرام وي
ښکلي سوات نه نښاني به د باګرام وي
هم به راوړي له هري او ساکستانه
سپين مرمر د لوی هلمند له ښکلو غاړو
له دې ټولو به ښايسته شي زموږ ډېدونه
باميکان به زړه د لويې آريانا شي

که پر استاد لېوال تفصيلي بحث کېږي نو دلته د هغه د افکارو له ګلبڼه ډېرې نورې ګېدی هم وړاندې کولای شو.

**عاطفه**

استاد لېوال چې په ځان و جهان او پېښو و پديدو کې د تفکر تلوسه، مطالعه، مشاهده او تجربه لري نو طبعن چې هغه د شاعرانه اروا د ځښتن په صفت، له دې هر څه اغېزمنېږي او دا اغېز يې عاطفي حالت متلاطموي، عاطفه هم د هغه يوه ځانګړنه ده، ټيک لکه مرحوم اسحق ننګيال چې په دغه صفت معروف دئ، نو استاد لېوال هم، د هغه د نژدې ملګري په توګه، له همدغې انساني_ هنري ځانګړنې برخمن دئ، د شعرپوهانو په اند، شعر ممکن له بل هر شعري صنعته پرته شعر و ګڼلای شو خو که له عاطفي تش شو بيا يې نو ايسته غورځوه، که څوک يې منې چې شعر د عاطفي بچې دئ نو بيا له موره پرته اولاد څنګه ممکنېدای شي؟

انسان چې څومره خبر وي او پوهېږي نو هغومره به ځوريږي، زموږ دغه هنرمن، د پوهې و تفکر په تنده کې، د ځواړخيزې مطالعي ښتن دئ، نو طبيعي ده چې د احساس و ادراک ځواک به يې پياوړی وي او نتيجه به يې د حوادثو په وړاندې، د دغسې انسان لا ډېر حساسيت، بېلابېل رواني انفعالات او عاطفي اشتعالات وي، هغه چې د خپل تاريخي برم رنګارنګ پړاوونه او د هر پړاو عاليشان معنويت، د انساني هوسايني عروج، هنري_ فرهنګي اوج او وياړلی ملي هويت يې په هډ و پوست درک کړی وي او نن ګوري چې خپله، د خپل وطن د مور په غېږ کې، د څو ارامو ساوو اخيستو فرصت نه لري، هغه چې دوې زريزې وړاندې خپل سوليز، رڼا و ويښتيا بخښونکی معنويت له ننني قانونمند شوي جهالت و خشونت سره پرتله کوي نو ذهني_ عاطفي حال و احوال به يې څنګه وي؟ هغه چې په خپله منظومه کې د خپلې جغرافيا هغه انساني خوی و خصلت تصويروي چې ژوو او طبيعت ته هم زيان نه شوای رسولای، ژوي ښکارول و ځورول، هم جرم، هم ګناه ګڼل کېده، لکه شاهمامه چې سلسال ته په اول ځل ليدو کې سخته غوسه کوي چې تا په کوم جرأت زموږ دغه انساني_ ملي فرهنګ ته په سپکه کتلي چې زموږ د غرونو هوسی ښکاروې، ستاسو په ځيګرو کې زړونه دي که ډېرې چې د ښکار شوي و زخمي هوسی د کبليو په سويو چيغو نه سوځئ؟ نو هغه هم، څنګه چې د سوليزې و انساني خاورې بچې دئ، وار له ټکه زخمي هوسی له کمنده بيرته خپلو کبليو ته ور خوشې کوي او د هوسی د ارواپوهنې په څه يوه ننداريز منظر سره دا منظر کښلي کوي چې هغه وارخطا تر شا ګوري او خپلو چغېدونکو کبليو ته ځان رسوي او نن د يوويشتمې پېړۍ په خپته کې د شاعر د وطن هوسی خو څه چې آن ښځه يې هم، په حکومتي فرمانو سره له انساني هويت و حيثيته بې برخې شوې، شا و خوا شل ميليونه ښځې يې ژوندی د کورو په چاردېواليو کې ښخې کړه شوې، د هغوی توهين، وهل و وژل مذهبي امر او د بې مثله


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

ثواب عبادت ګڼل کيږي، د دې فاجعې د افق و عمود په واقعي بيان د الفاظو وس نه شي رسېدای او نژدې ده د جنسيتي اپارتايد د شرم داغ د شاعر د ملي تاريخ پر لمن پريوزي نو دلته به د دغسې شاعر د عاطفي اشتعال د تودوخې درجه څومره وي! او د استاد لېوال دا عاطفي اور د هغه په ټول هنر کې، د هنر په لفظ لفظ او تصوير تصوير کې د درک و مشاهدې وړ دئ چې هغه ته خپل هنري هويت ور کوي.

**ژبه**

ادب، منجمله شعر، ژبنی هنر ګڼل شوی، هغه څه چې په دغه هنر کې، تر هر څه وړاندې، ور سره مخ کيږو، ژبه ده، ژبه ده چې د شعر ټول کمال و جمال ور پکښې نمود مومي او د شاعر فکري تومنه او د دغې تومنې په اغېز، عاطفي منظرونه و تصويرونه پکښې ځانونه لکه په عضوي اورګانيزمو بدلوي، آن ژبه پکښې په هدف بدليږي، نو په ادبياتو، په تېره بيا شعر کې، د ژبې نقش، د هغې تر مامول ارزښت څو چنده زياتيږي، د استاد لېوال ژبه دومره طبيعي، رڼه او خوږه ده چې فکر به کوې، د وطن د يوې صفا و سپېڅلې چينې ننداره کوم او د ذوق سينه دې پرې سړېدای شي، ګومان به کوې د دغې ژبې تورو، کلماتو، انځورو او ابياتو، د هغه د وطن د غرو و رغو، پټيو و باغو، کليو و کروندو پاکه و وړمينه هوا تنفس کړې او په خوځنده ارګانيزمو بدل شوي، په دغه ژبه کې، لږ تر لږه ما ته، د پرديتوب بوی نه راځي، پرديتوب په دې مانا نه چې ګواکې د افراط تر بريده، د نورو ژبو له کلماتو پاکه ده، البته له دې اړخه هم په متعادل حد کې پامونږ ده، بلکې دا چې د پردي فرهنګ، پردي ذهنيت، پردي هويت، په تېره بيا يرغلګر فکر و فرهنګ تسمم پکښې نه محسوسوم، ياني دا چې: دا ژبه، د خپل طبيعي چاپېرچل او سوچه ملي فکر و فرهنګ منعکسوونکې ده، دلته ژبه د خپل اصيل بومي فرهنګ ساتونکی لوښی او ملي فرهنګ، د دغه متناسب لوښي باکيفيته محتوا ده، د هغسې يوې زماني مقطعې د موضوع د بيان لپاره، دا ژبه څکه مناسبه ايسي چې هغه زمان هر څه زموږ او زموږ په خپل طبيعي رنګ رنګين دي، خاوره زموږ ده، مالکيت يې زموږ دئ، موږ پکښې د سياسي_ اخلاقي مسؤليت څښتنان يو او ور پکښې داسې د مدني کمال خاوندان يو چې نړۍ او آن نن خپله هم ور ته حيران يو، هغه کمال و مدنيت چې پوهانو "ګريکو بوديک هنر "بللی او له باختري ځانګړنو سره يې درې اړخيز (يوناني، بودايي او باختري) امتزاج د هېښنده او الهام بخښنه ننداري وړ دئ، داسې چې سړی حيرانوي او سوال ور ته پيدا کيږي چې زيات و کم دوې زريزې وړاندې، زموږ اسلافو دا ظرفيت و استعداد او دا مسلک و هنر له کومه کړی وو؟ دوی څنګه هغه مهال داسې شهکارۍ ممکنولای شوای؟ چې زموږ په دغه پراخه فکري_ هنري حوزه کې يې، د بشري تاريخ په کچه، يوه بې بديله بېلګه، د سلسال و شاهمامې قد و قامت وو، که يې واقعيت نه وای موندلئ او نن يې چا د طرحې نظر وړاندې کولای نو ممکن موږ ويلي وای چې دا يو اساطيري نظر دئ او په واقعيت نه شي بدلېدای، آن نن يې نړۍ ښايي بيا رغاونې و ترميم ته هم عاجزه اوسي، مګر دا زموږ هنرمن لېوال دئ چې هغو ته يې يو ځل بيا، خو دا ځل په خپله ډايناميکه و برېښندوکې ژبه کې، قد و قامت ور کړ، آن تر پخوا په لا ژوندۍ و پرتمينه بڼه، د سلسال و شاهمامې په ژبه کې چې کومه منظر کشي و تصوير آفريني کيږي، کومه جغرافيا و تاريخ بيانيږي، کوم طبيعت انځوريږي، د طبيعت کوم لوی و واړه اجزا توصيفيږي، دا ټول زموږ د سوچه ملي، طبيعي ژوند ژواک خورا سوچه، تازه او مشهود مظاهر دي چې د بلې هيڅ نامرتبطې سرې صحرا او سرو رېګو دوړه پرې نه ښکاري، په دغه منظرهيي شاعرانه ژبه کې، زه د خپلې خوشبويه خاورې د ترخې بوی حسوم، د تن وطن د سنځلې مستوونکی وږم ترې راځي، د خپلې جغرافيې د چينې، ويالې، سين د اوبو خوږلني، صفايي او سړوخه را باندې محسوسوي او .... مثلن تاسو يې خپله حس کړئ چې له دغو توکو سره مو حافظه، د اروا نړۍ او د وجود ذره ذره څومره روږده ده:

بامي ګلونه، د ژرندو څرخ، د اوبو شرشرې، د وربښمو کاروانونه، درې درې، پرښې پرښې ډېرين ډېوالونه، را الوتی ځوان ګوربت، پسرلی، زمرديني داماني، د سپينو اوبو چينې، غاټول، اوراورکي، سندرې، د باميان ډولچيان، د کابل منې، د لوی غر سنځل ګل، په اوربل کې غرني ګلان، په منګولو کې د بامي غنچه، اشر، ميراو، سراو، پس‌او، وار، اوبه وېش، غواګانې، رمې، پټې، دانې، ويالې، لښتي، رودونه، غرونه، واورې، په وښو پټ ډاګونه، د هوسيو و ګوزڼو ګلې، شنې شېلې، باز، لوړه څوکه، د هوسيو و کبليو او ورکيو و سېرليو بغبغا، د ښکاريانو د هاهاوو چغا، شنه ورشو کې د نجونو خنداوې، ريدي، د چينې آرام شرشر، شپېلۍ، ترانې، ټيکۍ، زمزمې، ياکوربان، د چرګانو بانګونه، پراخې ورشوګانې، د رمو او شپنو غړانګې، د بزو و مېږو په غاړو ګړنګانۍ، ورغومې، خوسکي، څرمن، کوچيان، کربوړې، ګاومېښې، لرګينه ګاډۍ، شپول، شپون، په چينه کې د آسمان ستورې ځلېدل، د آسونو دوړې، په چينارو کې د مرغيو چيغهار، د څوارلسمې سپوږمۍ رڼايي، کوزې سيمې، لوړې څنډې، برجوره کلا، د رمو د سپيو غپا، شنه ځنګلونه، نوروز، د غره کنډ د ټپې هوسۍ دوا، د بابا د غره د پرښو ګبين او ګلقند ګډول، ګندنار، جارو بوټې، زابلۍ توره، کبرګل، نيلوفر، د زرکو کټ کټا او...لکه په دغه خوځنده طبيعي ژبه کې چې زموږ ټول وطن، له خپل ټول اصيل او سپېڅلي طبيعت سره را ژوندی شوی وي، يوازې د تشو يادونو تر بريده نه، بلکې په هدفمنه، منظريي، توصيفي و هنري ژبه، لکه د وطن د ځمکې و هوا او سوچه طبيعت، دا باثبات او متحرک اجزا:



افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

د بابا هسکه څوکه، هندوکوښ، پاروپامیزاد، کپروک، د بامیان وادي، بامیکان، شیبر، ګوربت غر، بخدي، غزني، کابل، زابل، آریانا، د دونیا بام پامیر، سپینغر، تور غر، آسمايي غر، غاړي غاړي بهاند شین ترنک، پر مورګو اووښتی هراویتي، د ناور لاژوردين ډنډ، د سهاک کلا، شاپولاد، سیکارام، د غور مناورونه، هري، باختر، هلمند، اراکوزیا، کاسغر، د ژبي په برخه کي یي، بله پامور ځانګړنه د ژبي تازګي او نویوالی دئ، جالبه لا دا چي دا نویوالی د هغي په زوروالي کي ننداري ته وړاندي شوی، مانا دا چي یوه پدیده مو پخوا په یوه نامه بلله، بیا یي په شکل کي بدلون راغی، زړه بنه مو یي تقریبن هیره شوه، نوی شکل یي د ابتذال تر بریده تکرار شو، دغه ابتذال که په ورځنی محاوره کي ډېر پامور نه ایسي خو په شعر کي ښکاري او بیرته یي هیري شوي بڼي ته مراجعه، شعر ته له ورایه توجه اړولای شي، لکه په میوزیم کي یوه انتیک منحصر بفرد شي ته، مثلن: استاد لېوال زیاتره په خپلو منظومو کي زمونږ جغرافیايي، اتنیکي یا نوري فرهنګي نوموني د هغو په لرغوني یا اصلي بڼه کاروي چي دا کار دوه خونده لري یو دا چي د خپل طبیعت او فرهنګ له اصیل شکل و روح سره مو اشنا کوي، بل دا چي شعر د شعري توکو، من جمله ژبنیو عناصرو له تکرار سره، د ابتذال ګواښ ته مخیري نو که یو تصویر یا اصطلاح په تکرار واورو نور خپله مزه بایلي خو که عیني مفهوم په یوه بله نومونه یا بل شکل سره بیان کړو نو خوند څکه کوي چي نویوالی و تازه ګي لري او نویوالی شعر ته غوړېدا و جاذبه بخښي، لکه استاد د هندوکش، بامیان، بلخ، هرات، کندهار، ارغنداو، سید کرم، ننګرهار، بغلان، پنجشیر، سغد او کاشغر پر ځای هندوکوښ، بامیکان، بخدي، هري، اراکوزیا، هراویتي، سیکارام، نانګراهار، بګولان، پنجهیر، سوګد او کاسغر لیکي چي نااَشنا ایسي او ژبنی نااَشناتوب/ نوښت د شعر مذهب ګڼلای شو.

څرنګه چي د منظومي مرکزي مکان تقریبن د افغانستان مرکزي سیمي دي او د دغو سیمو، په تېره بیا زابل او غزني د لهجي له پامورو ځانګړنو یوه هم دا ده چي مفرد مذکر فعل (دئ) پکښې په مفرد مؤنث بڼه (ده) ویل کیږي، کله چي استاد لېوال په ځینو ځایو کي دغه لهجوي ځانګړنه کاروي، نو یو خوا، سړي ته د تازګی احساس ور کوي، بل طرف ته بیا تصور کوي چي سمدم په زابلستان و غزني کي ګرځم، ګواکي استاد، هم زابل در باندي ویني، هم یي در اوروي لکه:

داسي ښکاري زړه یي هلته ده بایللی
دا هغه ځانګړی شپه درنه شپبه ده
نن روښانه ویش پردېس دلته مېلمه ده
د ختن د مشکو بوی ده په حوضو کي
د بابا غره هسکه څوکه شاه پولاد ده
پري د واورو کربښي ښکاري کال آباد ده

بله په زړه پوري دا چي د تصویرو اجزا یي هم نژدي تړاو د منظومي د زمان و مکان اړوند دي، یاني هم یي مشبهات، هم مشبه بهات له همدغه چاپېرچله را اخیستي چي وروسته یي پر خپل ځای لیدلای شو.

نوربیا


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنيزي بني پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راليږلو مخکي په ځېر و لولـئ